# د زکریا نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

زکریا نبي او حجای نبي په
هماغه یو وخت کې ژوند کاوه.
دواړو د اورشلیم په ښار کې د
خدای د کور د بیا رغونې دپاره د
خلکو په هڅولو کې مهم رول درلود.
د اسراییلو هغو خلکو چې د بابل د
اسیرتوب څخه ازاد شوي وو، د دې
پیغمبرانو هڅوونکو خبرو ته اړتیا
درلودله، ترڅو وکولای شي د

ستونزو په وړاندې مقاومت وکړي او په اورشلیم کې د خدای د کور بیا رغونې ته دوام ورکړي. په پای کې ځلوېښت کاله وروسته دا کار سر ته رسیږي.

د زکریا نبي کتاب دوه بېلې بېلې برخې لري: لومړني فصلونه د ۱–۸ پورې د زکریا نبي پېشګویانې دي چې د میلاد نه مخکې شاوخوا ۵۲۰ کال پورې لیکل شوي دي. دا په اصل کې د رویاګانو په شکل کې دي او د اورشلیم د بیارغونې، د

عبادتځای د بیارغونې، د خدای د خلکو د پاکوالي او د راتلونکې مسیحي زمانې په هکله خبرې کوي. دوهم فصلونه د ۹– ۱۴ پورې د وعده شوي مسیح او وروستني قضاوت په هکله د پیغامونو ټولګه ده.

زکریا نبي خلکو ته ډاډ ورکوي چې هغه وعده شوی مسیح به په ټاکل شوي وخت کې دې نړۍ ته راشي. په خپل راتګ سره به مسیح په ټوله نړۍ باندې حکومت کوي او

سوله او ارامي به راولي. د زکريا نبي
څخه پنځه سوه کاله وروسته د دې
پېشګويانو څو برخې د عيسی مسيح
په راتګ سره پوره شوې. د مثال په
ډول نهم او دولسم فصلونه وګورئ
چې په هغو کې په روښانه توګه
اورشليم ته د عيسی مسيح د راتګ
په هکله چې په يو کوتې باندې
سپور ؤ او همدارنګه کله چې هغه په
صليب باندې ځړول کيږي او په نېزه
باندې وهل کيږي، اشاره شوې ده. د
زکريا نبي د پېشګويۍ نورې برخې
به د مسيح د دوهم ځل راتګ په

وخت کې پوره شي.

## د موضوعګانو لست

د خبردارۍ او امید پیغامونه: ۱– ۸ فصلونه

یهودا به په خپلو دښمنانو باندې برې ومومي:۹– ۱۱ فصلونه

د اورشلیم راتلونکې نېکمرغي او ارامي: ۱۲– ۱۴ فصلونه

**ښبنتن خپل قوم ته بلنه ورکوي چې د هغه خواته راوګرځي**

١ د فارس د پاچا داریوش د
پاچاهۍ د دوهم کال په اتمه میاشت
څښتن زکریا ته چې د برکیا زوی او
د عیدو لمسی ؤ، دا پیغام ورکړ. ٢
څښتن زکریا ته وویل چې خلکو
ته داسې ووایه: «زه څښتن ستاسو
نیکونو ته ډېر په قهر وم، ٣ خو
اوس تاسو ته وایم چې زما خواته
راوګرځئ، نو زه مطلق قادر څښتن
به ستاسو خواته دروګرځم. ٤ د
خپلو نیکونو په شان مه اوسئ. پخوا
به پیغمبرانو هغوی ته زما پیغام
ورکاوه او ورته ویل به یې چې

مطلق قادر څښتن داسې وايي چې د
بدو لارو څخه راوګرځئ او د بدو
کارونو نه لاس واخلئ. خو هغوی
زما خبرو ته غوږ نه نیوه او زما
خبرو ته يې پام نه کاوه. څښتن
داسې ویلي دي. ⑤ ستاسو نیکونه
چېرته دي؟ ایا پیغمبران به د تل
دپاره ژوندي وي؟ ⑥ ما د خپلو
خدمتګارانو یعنې پیغمبرانو په وسیله
هغوی ته حکمونه او خبرداری
ورکولې، خو هغوی یې پروا نه
ساتله او نتیجه یې دا وه چې هغوی
به کړېدل. نو هغوی توبه وویستله او

ويې ويل: ‹مطلق قادر څښتن مونږ ته د خپلو عملونو سزا راکړه او لکه څنګه چې هغه پرېکړه کړې وه، هغه يې سرته ورسوله.›»

## د اس سوارانو رويا

٧ د داريوش د پاچاهۍ په دوهم کال د يوولسمې مياشتې په څلورويشتمه ورځ د شباط په مياشت څښتن زکريا ته چې د برکيا زوی او د عيدو لمسی دی، يو بل پيغام ورکړ. ٨ ما د شپې يوه رويا وليدله چې هلته يو څوک ؤ چې په

سور اس باندې سپور ؤ. هغه په یوه
دره کې د آس د ونو په منځ کې
ولاړ ؤ او د هغه شاته نور سره، برګ
او سپین اسونه ولاړ وو. ۹ هلته یوه
بله فرښته ولاړه وه چې زما سره یې
خبرې کولې او ما ورڅخه پوښتنه
وکړه: «ای صاحبه، دا اسونه د څه
دپاره دي؟ هغې په ځواب کې راته
وویل: «زه به یې درته وښایم چې دا
د څه دپاره دي.» ۱۰ نو هغه سړي
چې د هغو ونو په منځ کې ولاړ ؤ،
ما ته وویل چې څښتن هغوی د دې
دپاره رالیږلي دي چې لاړ شي او په

ټوله دنیا کې وګرځي او وګوري چې
څه کیږي.»

١١ نو هغوی د څښتن فرښتې ته
چې د آس د ونو په منځ کې ولاړه
وه، راپور ورکړ: «مونږ په ټوله نړۍ
کې وګرځېدلو او ومو لیدل چې په
ټوله نړۍ کې ارامي ده.» ١٢ بیا د
څښتن فرښتې وویل: «ای مطلق
قادر څښتنه، اویا کاله کیږي چې ته
په اورشلیم او د یهودا په ښارونو
باندې په قهر یې. نور به ترڅو پورې
په هغوی باندې رحم نه کوې؟»

۱۳ ښتن د مهربانۍ او تسلۍ په
خبرو سره فرښتې ته ځواب ورکړ.
۱۴ بیا فرښتې ما ته وویل چې مطلق
قادر ښتن چې څه ویلي دي، هغه
خلکو ته اعلان کړه: «زه په اورشلیم
یعني خپل سپېڅلي ښار باندې
غیرت کوم، ۱۵ او زه په هغو قومونو
باندې چې په ارامۍ او سوله کې
ژوند کوي، ډېر په قهر یم. زه په
خپل قوم باندې لږ په قهر وم، خو د
هغو قومونو خلکو زما په خلکو
باندې ډېر ظلم وکړ. ۱۶ نو زه بېرته
اورشلیم ته راغلم چې په دې ښار

باندې رحم وکړم او هلته به زما کور
بیا اباد شي. د اورشلیم د بیا رغونې
دپاره د هغه اندازه واخیستل شي.»
مطلق قادر څښتن داسې ویلي دي.

۱۷ فرښتې دا هم راته وویل چې
دا اعلان وکړم: «مطلق قادر څښتن
داسې وايي چې دا ښارونه به یوځل
بیا نېکمرغه شي او څښتن به یوځل
بیا صهیون ته تسلي ورکړي او
یوځل بیا به اورشلیم د خپل ښار په
توګه غوره کړي.»

## د ښکرونو او اهنګرانو په هکله رویا

۱۸ په بله رویا کې ما څلور
ښکرونه ولیدل. ۱۹ ما د هغې فرښتې
نه چې زما سره یې خبرې کولې،
پوښتنه وکړه: «د دې ښکرونو معنی
څه ده؟ هغې ځواب راکړ: «دا د دنیا
قدرتونه دي چې د یهودا، اسراییلو
او اورشلیم خلک یې خواره واره
کړي دي.»

۲۰ بیا څښتن ما ته څلور
اهنګران راوښودل. ۲۱ ما پوښتنه
وکړه: «هغوی د څه دپاره راغلي
دي؟» هغه ځواب راکړ: «هغوی د

هغو قومونو د وېرولو او رانسکورولو دپاره راغلي دي چې د یهودا وطن یې ویجاړ کړی او خلک یې ورته خواره واره کړي دي.»

## د اندازه کولو د فیتې رویا

١ په بله رویا کې ما یو سړی ولیده چې د اندازه کولو فیته یې په لاس کې وه. ٢ د هغه نه مې پوښتنه وکړه: «چېرته روان یې؟» هغه ځواب راکړ: «ځم چې د اورشلیم اندازه واخلم، ترڅو اوږدوالی او سور یې معلوم کړم.»

۳ بیا مې ولیدل چې کومې
فرښتې چې زما سره خبرې کولې،
هغه مخکې لاړه او یوه بله فرښته
راغله چې د هغې سره ووینې. ۴
لومړنی فرښتې هغې بلې ته وویل:
«په منډه لاړه شه او هغه ځوان ته
چې فیته ورسره ده، ووایه چې په
اورشلیم کې به زیات خلک او
حیوانات وي او دېوال به نه لري.
۵ څښتن دا وعده کړې ده چې هغه
به په خپله د ښار ګردچاپېره د اور
یو دېوال وي چې د هغه ساتنه
وکړي او په خپل جلال سره به په

هغه کې اوسیږي.»

## جلاوطنو ته بلنه ورکول کیږي چې خپلو کورونو ته راشي

۶–۷ څښتن خپل قوم ته داسې
وايي: «ما تاسو څلور واړه خواو ته
خواره واره کړي یئ. خو اوس ای
جلاوطنو خلکو، د بابل نه وتښتئ او
اورشلیم ته ستانه شئ.» ۸ مطلق
قادر څښتن ما ته حکم وکړ هغه
قومونو ته چې اورشلیم یې لوټ
کړی دی، ووایم چې اورشلیم د
خدای دپاره دومره ارزښت لري لکه

د هغه د سترګو تور. څه چې تاسو د
اورشلیم سره کړي، په حقیقت کې
مو هغه د څښتن سره کړي دي. ۹
څښتن به په خپله ستاسو په
وړاندې وجنګیږي او تاسو به د هغو
خلکو له خوا لوټ کړای شئ چې یو
وخت ستاسو نوکران وو. کله چې دا
کار وشي، نو بیا به ټول په دې پوه
شي چې زه مطلق قادر څښتن
رالیږلی یم.

۱۰ څښتن داسې وایي: «ای د
اورشلیم خلکو، د خوشحالی

سندرې ووايئ! زه راځم چې ستاسو
په منځ کې واوسېږم!»

١١ په هغه وخت کې به ډېر
قومونه څښتن ته راشي او د هغه
قوم به شي. هغه به ستاسو سره
اوسیږي او تاسو به پوه شئ چې زه
مطلق قادر څښتن تاسو ته رالیږلی
یم. ١٢ یهودا به یوځل بیا په
سپېڅلي وطن کې د څښتن ځانګړی
ملکیت شي او اورشلیم به یوځل بیا
د خپل ښار په توګه غوره کړي.

١٣ ای خلکو، د ښتن په
حضور کې چوپ اوسئ، ځکه چې
هغه د خپل سپېڅلي استوګنځي نه
راروان دی.

## د مشر کاهن په هکله رویا

١ په بله رویا کې ښتن ما ته
مشر کاهن یوشع وښوده چې د
ښتن د فرښتې په مخکې ولاړ ؤ او
د یوشع ښي لاس ته شیطان ولاړ ؤ
چې په هغه باندې تور ولګوي. ٢ د
ښتن فرښتې شیطان ته وویل: «ای
شیطانه، ښتن دې تا ورټي، هغه

ښبنتن چې اورشليم يې غوره کړی دی، هغه دې تا ورټي. يوشع د هغه سوځېدلي لرګي په شان دی چې د اور نه راايستل شوی وي.»

۳ يوشع خيرن کالي اغوستي وو او د فرښتې په مخکې ولاړ ؤ. ۴ نو فرښتې هغو کسانو ته چې هلته ولاړ وو، وويل: «د دې سړي نه هغه خيرن کالي وباسئ.» بيا هغه يوشع ته وويل: «ما ستا ګناهونه لېرې کړل او تا ته به پاک کالي درکړم چې ته يې واغوندې.» ۵ بيا ما وويل چې

یوه پاکه لونګۍ یوشع ته ور په سر کړئ. هغوی همداسې وکړل او په داسې حال کې چې د څښتن فرښته هلته ولاړه وه، هغوی هغه ته پاک کالي ورواغوستل.

۶ بیا د څښتن فرښتې یوشع ته په جدي توګه وویل چې ۷ مطلق قادر څښتن ویلي دي: «که چېرې ته زما د قوانینو نه پیروي وکړې او هغه وظیفې ترسره کړې چې ما درته سپارلې دي، نو بیا به ته زما د کور او د هغه د حویلۍ مشري کوې او

زه به تا ته اختيار درکړم چې زما
حضور ته راشې، لکه څنګه چې دا
فرښتې دلته زما حضور ته راځي.
٨ نو ای يوشع چې مشر کاهن يې،
ته او ستا ملګري چې د يوې ښې
راتلونکې دپاره يوه نښه يئ، غوږ
ونيسئ. زه خپل هغه خدمتګار چې
د «ښاخ» په نوم ياديږي، راولم.
٩ زه د يوشع په مخکې يوه داسې
تيږه ږدم چې اووه مخونه لري. زه به
په هغې باندې خپله ليکنه وکړم.
مطلق قادر څښتن وايي چې زه به
په يوه ورځ کې د دې وطن ګناه

لېرې کړم.»

١٠ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «کله چې هغه ورځ راورسيږي، نو ستاسو نه هر يو به خپل ګاونډی راوغواړي چې راشي او په ارامۍ سره به ژوند تېروي او ګرد چاپېره به يې د انګورو باغونه او د انځرو ونې وي.»

## د څراغدان او زيتون د ونو په هکله رويا

١ کومې فرښتې چې زما سره

خبرې کړې وې، هغه بیا راغله او زه
یې لکه د هغه کس په شان چې
ویده شوی وي، راویښ کړم. ۲
هغې زما څخه پوښتنه وکړه: «څه
وینې؟» ما ځواب ورکړ: «یو
څراغدان چې د سرو زرو نه جوړ
شوی دی چې په سر باندې یې د
تېلو کاسه ایښې ده. په هغې باندې
اووه څراغونه ایښودل شوي دي او
په هر یو کې د اوو پلتو دپاره
ځایونه شته. ۳ د څراغدان په
څنګ کې د زیتون دوه ونې دي، یوه
یې ښي او بله یې چپ خوا ته ده.»

٤ بیا ما د فرښتې نه چې زما سره
یې خبرې کولې، پوښتنه وکړه: «ای
صاحبه، دا څه دي؟»

٥ فرښتې زما څخه پوښتنه
وکړه: «ایا ته نه پوهېږې؟» ما
ځواب ورکړ: «نه صاحبه، زه نه
پوهېږم.»

## خدای د زروبابل سره وعده کوي

٦ فرښتې ما ته وویل چې
زروبابل ته د څښتن دا پیغام ورسوه:
«ته به بریالی شې خو نه په خپل

نظامي قوت او نه په قدرت، بلکې
زما د روح په وسیله به بریالی شې.
مطلق قادر څښتن داسې ویلي دي.
۷ ستا په لاره کې هېڅ شی، حتی
لوی لوی غرونه هم نه شي
ودرېدلی. هغه به ستا د مخې څخه
هوار کړای شي. ته به د خدای کور
بیا جوړ کړې او همدا چې ته اخرنۍ
تیږه کېږدې، نو خلک به چیغې
ووهي : «خدای دې برکت ورکړي،
خدای دې برکت ورکړي!»

۸ بیا د څښتن له خوا ما ته یو

بل پيغام راغی. ٩ هغه وويل:
«زروبابل د خدای د کور تهداب
ايښی دی او هغه به دا ودانۍ سر ته
رسوي. کله چې داسې وشي، نو زما
قوم به پوه شي چې دا زه مطلق قادر
څښتن يم چې ته مې هغوی ته
ورلېږلی يې. ١٠ خلک نااميده شوي
دي، ځکه چې کار پرمختګ نه دی
کړی. خو کله چې هغوی ووينې چې
زروبابل د خدای د کور جوړولو ته
دوام ورکوي، نو هغوی به خوشحاله
شي.›»

## د څراغدان او د زيتون د دوو ونو تشريح

فرښتې وويل: «دا اووه څراغونه د څښتن اووه سترګې دي چې ټولې دنيا ته ګوري.»

١١ بيا ما د فرښتې نه پوښتنه وکړه: «هغه دوه ونې چې د څراغدان ښي او چپ خواته ولاړې دي، د هغې معنی څه ده؟» ١٢ يوځل بيا ما د هغې څخه پوښتنه وکړه: «د زيتونو دوه څانګې چې د سرو زرو د دوه نلونو په څنګ کې چې د زيتونو تېل

ورڅخه تویېږي، هغه څه شی دی؟»

١٣ هغې زما څخه پوښتنه وکړه: «ایا ته نه پوهېږې؟» ما ځواب ورکړ: «نه صاحبه، زه نه پوهېږم.» ١۴ بیا هغې وویل: «دا دوه سړي دي چې خدای هغوی په مسح کولو سره غوره کړي دي چې د ټولې دنیا د څښتن خدمت وکړي.

## د الوتونکي طومار په هکله رویا

١ ما یوځل بیا وکتل او دا ځل مې یو طومار ولیده چې په هوا کې الوت. ٢ فرښتې راڅخه پوښتنه

وکړه چې ته څه وینې؟ ما ځواب
ورکړ: «یو طومار وینم چې په هوا
کې روان دی، هغه لس متره اوږد
دی او پنځه متره یې سور دی.» ۳
بیا فرښتې ما ته وویل: «په هغه
لعنت لیکل شوی دی چې ټولې دنیا
ته ورل کیږي. د طومار په یو مخ
باندې لیکل شوي دي چې که چېرې
څوک غلا وکړي، نو هغه به د وطن
نه وویستل شي او په بل مخ باندې
لیکل شوي دي چې هرڅوک چې
په دروغو قسم وخوري، نو هغه به
هم ورک شي. ۴ مطلق قادر څښتن

وايي چې زه به دا لعنت د هغه چا په
کور باندې چې غلا کوي، نازل کړم
او د هغه چا په کور باندې چې په
دروغو قسم خوري، نازل کړم. دا به
د هغوی په کورونو کې پاتې شي او
هغه کورونه به د لرګیو او تیږو سره
له منځه لاړ شي.»

**د هغې ښځې په هکله رویا چې په ټوکرۍ کې وه**

۵ بیا هغه فرښته چې زما سره
یې خبرې کولې، ما ته رانژدې شوه
او ویې ویل: «پورته وګوره چې څه

شی راروان دی! ۶ ما پوښتنه وکړه:
«دا څه شی دی؟» هغې ځواب راکړ:
«دا ټوکری ده او هغه د یهودا د ټول
وطن د ګناهونو نه ډکه ده.» ۷ هغې
ټوکری یو سرپوښ درلود چې د
سرپو نه جوړ شوی ؤ. کله چې د
ټوکری نه سرپوښ لیرې شو، نو په
هغې کې یوه ښځه ناسته وه. ۸
فرښتې وویل: «دا ښځه د بدکاری
یو مثال دی.» بیا فرښتې هغه ښځه
بیرته ټوکری ته ورټېل وهله او
سرپوښ یې بیرته ورباندې کېښود.

٩ ما پورته وکتل او دوه ښځې
مې ولیدلې چې د لګ لګ په شان
قوي وزرونه یې لرل او زما خواته
راوالوتلې. هغوی ټوکرۍ راواخیستله
او د ټوکرۍ سره پورته والوتلې. ١٠
ما د فرښتې نه پوښتنه وکړه:
«هغوی دا ټوکرۍ چېرته وړي؟» ١١
هغې ځواب راکړ: «هغه بابل ته
وړي. هلته د هغې دپاره عبادتځای
جوړوي. کله چې عبادتځای جوړ
شو، نو ټوکرۍ به په هغه ځای کې
کېښنودل شي.»

# د څلورو جنګي ګاډيو په هکله رويا

١ ما بله رويا وليدله. دا ځل مې
څلور جنګي ګاډۍ وليدلې چې د
دوه برنجي غرونو له منځ نه
راووتلې. ٢ لومړنۍ ګاډۍ سرو
اسونو او دوهمه ګاډۍ تورو اسونو
راکشوله، ٣ دريمه ګاډۍ سپينو
اسونو او څلورمه ګاډۍ برګو اسونو
راکشوله او ټول ډېر قوي وو. ٤ نو
ما د فرښتې نه پوښتنه وکړه:
«صاحبه، د دې ګاډيو معنی څه
ده؟» ٥ هغې ځواب راکړ: «دا

څلور اسماني روحونه دي، هغوی د
ټولې دنيا د ښښتن له حضور نه
راغلي دي.»

٦ کومه ګاډۍ چې تورو اسونو
کشوله هغه د بابل شمال خواته روانه
وه، د سپينو اسونو والا ګاډۍ په
هغوی پسې روانه وه او د برګو
اسونو ګاډۍ د جنوب خوا وطن ته
روانه وه. ٧ کله چې هغه قوي
اسونه راووتل او په بې‌صبرۍ سره
يې غوښتل چې لاړ شي او په ټوله
دنيا کې وګرځي. فرښتې وويل: «لاړ

شئ او په ټوله دنيا کې وګرځئ! او هغوی روان شول.» ۸ بيا فرښتې ما ته غږ وکړ: «کوم اسونه چې شمال خواته بابل ته لاړل، په دې باندې د څښتن روح ارام شو.»

## يوشع ته د تاج ور په سر کولو حکم

۹ بيا څښتن ما ته دا پيغام راکړ. ۱۰–۱۱ هغه وويل: «د حلدای، طوبيا او يدعيا خلک د جلاوطنی څخه راغلي دي. هغوی د ځان سره د سرو زرو او سپينو زرو سوغاتونه راوړي دي. هغه د هغوی نه واخله

او سمدلاسه د سفنیا د زوی یوشیا
کور ته لاړ شه. د هغو سپینو او سرو
زرو نه یو تاج جوړ کړه او هغه د
مشر کاهن یوشع د یهوصاداق زوی
ته ور په سر کړه. ۱۲ هغه ته ووایه
چې مطلق قادر څښتن وايي: «هغه
سړی چې د ځانګې په نوم یادیږي،
هغه به په خپل ځای کې د ځانګې
په شان راشین شي او د څښتن
عبادتځای به بیرته جوړ کړي. ۱۳
هغه هماغه سړی دی چې دا
عبادتځای به جوړ کړي، شاهانه
عزت به ترلاسه کړي او په خپلو

خلکو باندې به پاچاهي کوي. کاهن
به د هغه د تخت سره ولاړ وي او
هغوی به یو د بله سره په ارامۍ او
همغږۍ سره کار کوي. ۱۴ هغه تاج
به د حلدای، طوبیا، یدعیا او د سفنیا
زوی یوشیا ته د درناوي په خاطر د
څښتن په عبادتځای کې د یادګار په
توګه پروت وي.

۱۵ کوم خلک چې په لیرې
ځایونو کې اوسیږي، هغوی به راشي
او د څښتن د عبادتځای په جوړولو
کې به مرسته وکړي. کله چې هغه

جوړ شي، نو تاسو به پوه شئ چې زه مطلق قادر څښتن تاسو ته رالیږلی یم. دا هر څه به په هغه وخت کې وشي چې تاسو د خپل څښتن خدای د حکمونو څخه په پوره توګه پیروي وکړئ.

## د خلکو د ریاکارۍ روژه

١ د داریوش د پاچاهۍ په څلورم کال، د نهمې میاشتې په څلورمه ورځ یعنې د کسلو په میاشت کې څښتن ما ته یو پیغام راکړ.

٢ د بیت‌ییل خلکو شراصر او رجم‌ملک د خپلو نورو خلکو سره د څښتن عبادتځای ته ولېږل چې د څښتن نه د برکت غوښتلو دپاره دعا وکړي ٣ او د مطلق قادر څښتن د کور کاهنانو او پیغمبرانو نه دا پوښتنه وکړي: «ایا مونږ باید د عبادتځای د ورانېدلو په خاطر په پنځمه میاشت د روژې په نیولو سره خپل ماتم ته دوام ورکړو لکه څنګه چې مو کلونه کلونه وکړل؟»

٤ دا د مطلق قادر څښتن هغه

پیغام دی چې ما ته یې راکړ. ۵
هغه وویل: «د وطن ټولو خلکو او
کاهنانو ته ووایه چې هغوی کله چې
په هغو اویا کلونو کې په پنځمه او
اوومه میاشت کومې روژې نیولې
وې او ماتم یې کړی دی، ایا هغه یې
زما دپاره نیولې وه؟ ۶ کله چې
هغوی خوراک او څښاک کاوه، نو
ایا هغه یې د خپل ځان د خوشحالۍ
دپاره نه کاوه؟ ۷ ایا څښتن د
مخکینیو پیغمبرانو په وسیله داسې نه
وو ویلي چې په هغه وخت کې
اورشلیم نېکمرغه ؤ او هلته دومره

ډېر خلک وو چې د ښار شاوخوا ښارګوټو او همدارنګه په جنوبي سیمو او د لوېدیځو غونډیو په لمنو کې اوسېدل؟»

## د نافرمانۍ په سبب جلاوطنه کېدل

٨ ښبنتن زکریا ته دا پیغام ورکړ: ٩ مطلق قادر ښبنتن داسې وايي: «عادلانه قضاوت وکړئ او په یو بل باندې مهرباني او رحم کوئ. ١٠ په کونډو، یتیمانو او پردیو خلکو باندې چې ستاسو په منځ کې اوسیږي او په غریبانو باندې ظلم مه

کوئ. او د یو بل په خلاف دسیسه مه جوړوئ.

١١ خو زما خلکو په سرتمبګۍ سره غوږ نه نیوه. هغوی په خپلو غوږونو کې ګوتې کېښودلې چې څه وانه وري ١٢ او خپل زړونه یې د تیږې په شان سخت کړل. هغوی هغه تعلیم ته غوږ ونه نیوه چې ما د خپل روح سره د پخوانیو پیغمبرانو په وسیله ورلیږلی ؤ، نو له دې امله زه ډېر په قهر شوم. ١٣ څکه کله به چې ما خبرې کولې، نو هغوی ورته

غوږ نه نیوه او کله به چې هغوی خبرې کولې، نو ما به ورته غوږ نه نیوه. مطلق قادر څښتن داسې وایي.
۱۴ هغوی مې په توفان باندې نورو وطنونو ته خواره واره کړل چې هغوی په کې د پردیو په شان اوسېدل. دا ښکلی وطن په یو داسې وران او ویجاړ ځای باندې بدل شو چې هېڅوک هم په کې نه ګرځېدل.»

**څښتن وعده کوي چې اورشلیم ته به برکت ورکړي**

١ د مطلق قادر ښبتن له خوا
یوځل بیا ما ته دا پیغام راغی: ٢
«زه په اورشلیم باندې ډېر غیرت
کوم او د هغوی په دښمنانو باندې په
قهر یم.» ٣ زه به خپل سپېڅلي
ښار اورشلیم ته راستون شم او هلته
به اوسېږم. هغه به د یو وفادار ښار
په نوم مشهور شي او د مطلق قادر
ښبتن غر به د سپېڅلي غر په نوم
یاد شي. ٤ مطلق قادر ښبتن
داسې وایي: «یوځل بیا به زاړه سړي
او ښځې یعني داسې زاړه خلک چې
په امسا باندې ګرځي، د ښار په

کوڅو کې کښېني. ۵ او د ښار
کوڅې به يوځل بيا د هلکانو او
نجونو نه ډکې شي او لوبې به په کې
کوي.»

۶ مطلق قادر څښتن داسې
وايي: «کېدای شي چې دا کار د قوم
پاتې خلکو ته ناشونی ښکاره شي،
خو زما دپاره ناشونی نه دی. ۷ زه
به خپل خلک چې په ختيځو او
لوېديځو وطنونو کې جلاوطنه دي،
وژغورم ۸ او هغوی به اورشليم ته
راولم چې هلته واوسيږي. هغوی به

زما قوم وي او زه به د هغوی خدای
یم او د وفادارۍ او انصاف له مخې
به په هغوی باندې حکومت کوم.»

(۹) مطلق قادر څښتن داسې
وايي: «زړور اوسئ! تاسو اوس
هماغه خبرې اورئ چې پیغمبرانو په
هغه وخت کې کولې چې کله خلکو
زما د کور یعنې د عبادتځای تهداب
ایښوده، ترڅو هغه جوړ شي. (۱۰) د
هغې نه مخکې هېڅا نه شو کولای
چې انسانان یا حیوانات د کار دپاره
په مزدورۍ ونیسي او هېڅوک هم د

خپلو دښمنانو نه په امن کې نه ؤ
چې تګ او راتګ وکړي، ځکه ما
خلک په خپل منځ کې سره واچول.
١١ خو زه به اوس د دې پاتې شويو
خلکو سره هغه چلند ونه کړم، لکه
مخکې مې چې کاوه. مطلق قادر
څښتن داسې وايي. ١٢ هغوی به په
ارامۍ سره خپل فصلونه کري. د
هغوی تاکونه به انګور نيسي، ځمکه
به حاصل ورکوي او پرېمانه باران به
اوري. زه به دا هر څه د خپل قوم
ژوندي پاتې شويو خلکو ته د
ميراث په توګه ورکړم. ١٣ ای د

اسراییلو او یهودا خلکو! په پخوا وختونو کې چې به کله پردیو خلکو یو بل ته ښېراوې کولې، نو هغوی به ویل: ‹کومه بلا چې په یهودا او اسراییلو باندې راغلې وه، هغه دې په تا باندې هم راشي!› خو زه به تاسو وژغورم، نو بیا به پردي خلک یو بل ته وايي: ‹کوم برکتونه چې په یهودا او اسراییلو باندې شوي دي، په تا دې هم وشي!› نو مه وېرېږئ او زړور اوسئ.»

## ۱۴ مطلق قادر ښتن داسې

وايي: «کله چې ستاسو نيکونو زه په
قهر کړم، نو ما پلان جوړ کړ چې په
هغوی باندې يوه بلا راولم او خپله
پرېکړه مې بدله نه کړه. 15 خو اوس
مې دا اراده کړې چې د اورشليم او
يهودا خلکو ته برکت ورکړم. نو بيا
مه وېرېږئ. 16 دا هغه کارونه دي
چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ: يو
بل ته رښتيا وايئ. په محکمو کې د
رښتينې عدالت نه کار اخلئ، ترڅو
سوله او سلامتي راولي. 17 يو بل ته
د زيان رسولو دسيسې مه جوړوئ
او د دروغو قسم مه خورئ، ځکه

چې زه د دې شيانو څخه کرکه کوم.» مطلق قادر څښتن داسې وايي.

۱۸ مطلق قادر څښتن ما ته دا پيغام راکړ: ۱۹ «په څلورمه، پنځمه، اوومه او لسمه مياشت چې کومې روژې نيول کيږي، هغه به د يهودا د خلکو دپاره د خوشحالۍ د جشنونو او خوښۍ وختونه وي. تاسو بايد د حقيقت او سولې سره مينه ولرئ.»

۲۰ مطلق قادر څښتن وايي:

«هغه وخت راروان دی چې د ډېرو
ښارونو نه به خلک اورشليم ته
راځي. ٢١ د يو ښار خلک به بل
ښار ته ځي او وايي به: «زمونږ سره
راځئ چې خښتن ته سوال وکړو
چې برکت راته راکړي او د مطلق
قادر خښتن عبادت وکړو. زه به هم
ځم.» ٢٢ ډېر خلک او قوي قومونه
به اورشليم ته راشي چې د مطلق
قادر خښتن عبادت وکړي او هغه ته
د برکت غوښتلو دپاره دعا وکړي.
٢٣ مطلق قادر خښتن داسې وايي:
«په هغو ورځو کې به د نورو قومونو

او مختلفو ژبو خاوندانو نه په لس
کونو خلک راشي او د یو یهودي
لمن به ونیسي او هغه ته به زاري
کوي او وایي به: ‹مونږ پرېږده چې
ستاسو سره لاړ شو، ځکه چې مونږ
اورېدلي دي چې خدای ستاسو سره
مل دی.›»

## د اسراییلو دښمنانو ته سزا

١ دا د څښتن پیغام دی: هغه د
حدراخ او دمشق ښار ته د سزا
ورکولو فرمان ورکړی دی. ځکه
چې د څښتن سترګې په ټولو خلکو

او د اسراییلو په ټولو قبیلو باندې
دي. ۲ د حمات ښار چې د
حدراخ سره سرحد لري او
همدارنګه د صور او صیدون ښارونه
د خپلو ماهرینو سره هم د هغه دي.
۳ صور د خپل ځان دپاره قوي کلا
جوړه کړه او سپین زر یې لکه د
خاورو په شان او سره زر یې لکه د
کوڅو د خټو په شان راټول کړل. ۴
خو اوس به څښتن د هغه نه مال او
جایداد واخلي، د هغه نظامي قدرت
ته به په بحیره کې ماتې ورکړي او
ښار به وسوځول شي.

٥ د اشقلون ښار به دا ووینی او
وبه وېرېږي. د غزې ښار به دا
ووینی او په یو لوی عذاب به اخته
شي. همدارنګه د عقرون د ښار
هيلې به له منځه لاړې شي. غزه به
خپل پاچا له لاسه ورکړي او په
اشقلون کې به نور څوک نه اوسيږي.
٦ په اشدود کې به د مختلفو
نژادونو خلک اوسيږي. څښتن وايي:
«زه به د فلسطينيانو غرور له منځه
يوسم. ٧ هغوی به نور هغه غوښه
نه خوري چې وينه په کې وي او د
هغوی د غاښونو نه به حرام شيان

راوباسم. ټول ژوندي پاتې شوي فلسطينيان به زما د قوم يوه برخه شي او هغوی به د يهودا د قبيلې د يوې طايفې په شان وي. عقرون به لکه د يبوسيانو په شان زما د خلکو يوه برخه شي. ⑧ زما سترګې به زما په کور باندې وي او يرغلګر لښکر به پرېنږدم چې د هغه په لاره باندې تېر شي. زه به ظالمان پرېنږدم چې نور زما په خلکو باندې ظلم وکړي. ما د خپل قوم کړاوونه ليدلي دي.»

۹ خوشحالي کوئ، خوشحالي
کوئ ای د صهيون خلکو

د خوشحالی ووهئ
چيغې ای د
اورشليم خلکو

ګورئ، دی راروان ستاسو
پاچا تاسو ته

هغه عادل دی او
ژغورونکی دی

خو دی خاکسار هغه او سپور
دی په خره باندې

یعني په کوتې باندې
١٠ ښتن وايي:

زه به کړم ورکې جنګي ګاډی
د اسراییلو نه

او د اورشلیم نه جنګي
اسونه

هغه لیندې به زه له منځه
یوسم

چې ورنه کار اخیستل

کیږي جنګ کې

سوله به راولي ستاسو پاچا د

قومونو منځ ته

هغه به کاندي پاچاهي

یو بحیرې نه بلې

بحیرې پورې

د فرات له سینده د

دنیا تر اخر سره

پورې

١١ د هغه ترون په خاطر چې
مې کړی دی تاسو سره

چې مهر شوی د
قرباني په وینو

زه به خلاص کړمه ستا خلک

چې اسیران دي پردو
ملکونو کې

د جلاوطنی نه چې
دی د وچې ځاه په
شان

١٢ ای اسیرانو د چا چې شته د
ازادۍ هیله

راستانه شئ بېرته
خپلې قوي کلا ته

زه کړم وعده تاسو لیدلی چې
کوم کړاو دی

د هغې به درکړم دوه
چنده برکت تاسو
ته

١٣ د یهودا نه به زه کار واخلمه

د عسکرو د لینډې په
شان

او د اسراییلو نه لکه د
غشو په شان

کار به واخلم د صهیون له
خلکو لکه د تورې په
شان

چې وکړم جنګ د
یونان خلکو سره

**د خدای د قوم بیا رغېدنه**

۱۴ شي رابنكاره به ښتن د
خپل قوم دپاسه

ولي به غشي هغه لکه
برېښنا په شان

سرنی به ووهي ښتن تعالی

هغه توفان کې راروان
به وي جنوب له
خوا نه

۱۵ مطلق قادر ښتن به ساتي
خپل قوم

او دوی به تباه کړي

خپل دښمنان

او شي به کامیاب

خپلو مچنوغزو

سره

هغوی به چیغې وهي جنګ

کې شرابیانو په شان

هغوی به ډک وي له

خوشحالۍ نه

لکه کاسه چې وي له وینې

ډکه

چې شیندل کیږي د
قربانګاه په کنجونو
باندې

١۶ کله چې راشي هغه ورځ،
ښښتن به ژغوري خپل قوم

لکه شپانه چې ژغوري
خپلې رمې له خطر

هغوی ځلیږي به په خپل
وطن کې

لکه په تاج کې د غمیو
په شان

١٧ هغه وطن به وي ښومره ښه
او ښکلي

په غلو او په شرابو به یې
قوي شي ځوانان

## ښبتن د خلاصون وعده کوي

١ د پسرلي په موسم کې د
ښبتن نه د باران سوال وکړئ. دا
ښبتن دی چې وربځې راولي او

باران اوروي او د هرچا پټې شنه کوي. ② خلک د بتانو او فال کتونکو نه مشورې غواړي، خو هغوی چې کوم ځواب ترلاسه کوي، هغه دروغ او بې‌معنی دی. ځینې خلک د خوبونو تعبیر کوي، خو هغوی تاسو بې‌لارې کوي او هغه تسلۍ چې ورکوي، هغه بې‌ګټې دي. نو خلک د ورکو شویو پسونو په شان سرګردانه دي. هغوی په تکلیف کې دي، ځکه چې شپون نه لري.

③ څښتن وايي: «زه په هغو

شپنو باندې په قهر یم چې په تاسو باندې حکومت کوي، نو زه به هغوی ته سزا ورکړم. د یهودا خلک زما خلک دي او زه مطلق قادر څښتن به په هغوی باندې پام کوم. هغوی به زما دپاره د قوي جنګي اسونو په شان وي. ۴ په هغوی کې به حاکمان، مشران او قوماندانان پیدا شي چې زما په خلکو باندې به حکومت کوي. ۵ د یهودا خلک به د هغو عسکرو په شان بریالي وي چې خپل دښمنان د کوڅو د خټو په شان تر پښو لاندې کوي. هغوی به

جنګیږي، ځکه چې ښبنتن د هغوی سره مل دی او تر دې چې هغوی به د دښمن اس سوارانو ته هم ماتې ورکړي.»

۶ زه به قوي کړمه د یهودا خلک

زه به وژغورمه د اسراییلو خلک

کوم به رحم په هغوی باندې

هغوی به ټول راولم

ببرته خپلو کورونو
ته

هغوی به وي داسې لکه چې
نه مې دي رد کړي کله

زه څښتن خدای یمه د
دوی او قبلوم به
دعاګانې د دوی

٧ داسې به وي د اسراییلو
خلک لکه قوي عسکرو په
شان

وي به خوشحاله
داسې د هغو خلکو
په شان

چې يې وي ښبنلي
شراب

يادوي به اولاده د هغوى دا
كاميابي

ښبنتن چې كړي دي
څه په دې
خوشحاله به وي

۸ زه به ناري وهمه خپل قوم
ته

او سره راټول به يې
کړم

زه به وژغورم هغوی

او د پخوا په شان به
يې زيات کړمه زه

۹ سره له دې چې مې خپاره
کړل هغوی نورو قومونو کې

خو دوی به یاد کړي
ما لېږي ځایونو
ښخه

ژوندي به پاتې شي هغوی او
اولادونه د دوی

او بېرته به راشي خپل
وطن ته هغوی

١٠ هغوی به راولمه له سوریې او
مصره

او کړم به مېشته په

خپل وطن کې

هغوی

زه به مېشته کړمه هغوی هم

په جلعاد او په لبنان کې

ځکه چې نه به وي

کافي ځايونه په

خپل وطن کې

د هغوی دپاره

١١ کله چې تېر شي هغوی د

سختيو له درياب څخه

زه څښتن به کړم
خاموشې څپې

او شي به وچې د نیل
ژورې اوبه

شي به مات غرور د آشور

او خپل قدرت به
بايلي هغه قوي
مصر

۱۲ زه به خپل قوم قوي کړم

هغوی به کاندي عبادت او
اطاعت زما څښتن
داسې ویلي.

**د ظالمو حاکمانو رانسکورېدل**

١ پرانیزه خپلې دروازې لبنانه
ترڅو وسوځوي اور
ستا د سبر ونې

٢ وکړېږئ ژړا او انګولا ای د
سروې ونو

دي رالوېدلې د سبر

ونې

له منځه تللي هغه د شان او د
شوکت ونې

وکړئ ژړا او انګولا
ای د باشان د
څېړیو ونو

له منځه تللي هغه ګڼې
ځنګلونه

۳ له خفګانه کړي ژړا او انګولا
شپانه

ځکه چې تللی دی
جلال د دوی

د زمریانو غورېدل واورئ

ځکه تباه شوي د
اردن ځنګلونه

**د شپنو مثال**

(۴) زما ښبنتن خدای ما ته داسې وویل: «د هغو پسونو د رمو شپون شه چې حلالېږي به. (۵) کوم کسان چې پسونه اخلي او حلالوي

يې، سزا ورته نه ورکول کيږي. کوم کسان چې هغه خرڅوي، هغوی وايي: «د څښتن ثنا او صفت دې وي! موږ شتمن يو! حتی د هغوی خپل شپانه هم په هغو باندې رحم نه کوي.»

۶ څښتن وايي: «زه به د دې ځمکې په خلکو باندې نور رحم نه کوم او زه به هر يو خپل ګاونډي او خپلو حاکمانو ته په لاس ورکړم. هغوی به په دې وطن باندې ظلم کوي او زه به يې د هغوی د لاسونو

ثخه نه خلاصوم.»

٧ هغو سوداګرانو چې پسونه اخیستي او خرڅ کړي دي، هغوی زه مزدور کړی یم او د هغو پسونو شپون کړی یې یم چې حلالیږي به. ما دوه لرګي راخیستي دي: په یو باندې مې د مهربانۍ نوم ایښی او په بل باندې مې د یووالي نوم ایښی دی. او ما په رمې باندې پام کاوه

٨ او په یوه میاشت کې مې د هغو دریو شپنو ثخه ځان خلاص کړ. ما د پسونو د سوداګرانو سره خپله

حوصله له لاسه ورکړه او هغوی هم زما ښخه کرکه کوله. ⑨ بیا ما وویل: «زه به نور ستاسو شپون نه یم. که تاسو مره کیږئ، نو مره دې شئ. که له منځه ځئ، نو له منځه دې لاړ شئ. کوم کسان چې ژوندي پاتې کیږي، پرېږده چې یو بل سره وخوري.» ⑩ بیا ما هغه لرګی چې د مهربانۍ په نوم یادېده راواخیست او مات مې کړ، ترڅو هغه لوظ مات کړم چې ښبنتن د ټولو قومونو سره کړی ؤ. ⑪ نو په هماغه ورځ ترون مات شو. د پسونو سوداګرانو ما ته

کتل او هغوی پوه شول چې ما چې
کوم کار وکړ هغه د خدای پيغام ؤ.
١٢ ما هغوی ته وويل: «که ستاسو
خوښه وي، نو ما ته خپله مزدوري
راکړئ. که نه، نو ويې ساتئ.» نو
هغوی ما ته په مزدورۍ کې د سپينو
زرو دېرش سکې راکړې.

١٣ بيا څښتن ما ته وويل: «هغه
د عبادتځای په خزانه کې کېږده. نو
ما هغه د سپينو زرو دېرش سکې
چې د هغو په نظر کې زه د هغو وړ
وم واخيستې او هغه مې د عبادتځای

په خزانه کې کېښودلې. ۱۴ بیا مې
هغه دوهم لرګی چې د یووالي په نوم
یادېده مات کړ، نو د یهودا او
اسراییلو یووالی ټوټې ټوټې شو.

۱۵ بیا ښتن ما ته وویل: «دا
ځل بیا د کم‌عقل شپون سامان
راواخله. ۱۶ ځکه ما یو شپون د
خپلې رمې مسوول ټاکلی دی، خو
هغه به په هغو پسونو باندې پام نه
کوي چې مړه کېږي، نه به ورک
شوي پسونه لټوي او نه به د زخمي
شویو پسونو علاج کوي او نه به

روغو پسونو ته خوراک ورکوي،
بلکې هغه به د چاغو پسونو غوښې
خوري او سومونه به يې وباسي.

⑰ افسوس په حال د هغه شپون

چې پرېږدي خپله رمه

توره دې ووهي ښي لاس

او د هغه ښي سترګه

د هغه مټ دې وچ شي په پوره
توګه

او بیخي ړنده دې شي د
هغه بني سترګه

## د اورشلیم راتلونکې ازادي

١ دا د اسراییلو په هکله د
ښتن پیغام دی یعنې هغه ښتن
چې اسمانونه یې خپاره کړي دي،
ځمکه یې پیدا کړې او انسان ته یې
ژوند وربخښلی دی. هغه داسې
وایي: ٢ «ګورئ، زه به اورشلیم د
شرابو د جام په شان کړم، د هغه
شاوخوا قومونه به هغه وڅښي او د
شرابیانو په شان به په لاره زنګیږي.

کله چې هغوی اورشلیم کلابند کړي،
نو د یهودا نور ښاروونه به هم کلابند
کړي. ۳ په هغه ورځ به زه اورشلیم
د یوې درندې تیږې په شان کړم
چې هر قوم وغواړي هغه راپورته
کړي، نو ژوبل به شي. د دنیا ټول
قومونه به خپل قوتونه سره یوځای
کړي او په اورشلیم باندې به حمله
وکړي. ۴ په هغه ورځ به زه د
هغوی اسونه وویروم او په هغو
باندې ټول سپاره خلک به لېونیان
کړم. زه به د یهودا خلک تر خپل
نظر لاندې ساتم، خو د هغوی د

دښمنانو اسونه به ړانده کړم. ۵ بیا
به د یهودا مشران د خپلو ځانونو
سره وايي: ‹مطلق قادر څښتن
خدای د اورشلیم اوسېدونکو ته
قوت ورکوي.›

۶ په هغه ورځ به زه د یهودا
مشران د هغه اور په شان کړم چې
په ځنګل یا د پټي په پوخ فصل کې
بل وی. هغوی به شاوخوا قومونه
تباه کړي، خو د اورشلیم خلک به
په ښار کې خوندي پاتې شي. ۷ زه
څښتن به د اورشلیم نه مخکې اول د

يهودا لښکرو ته برى ورکوم، ترڅو
کوم عزت چې د داود کورنى او د
اورشليم خلک يې ګټي، هغه به د
يهودا د عزت څخه زيات نه وي.
٨ په هغه ورځ به څښتن د اورشليم
د خلکو ساتنه کوي او حتى د هغوى
ډېر کمزوري خلک به د داود په
شان قوي وي. د داود اولاده به د
څښتن د فرښتې يعنې په خپله د
خداى په شان د هغوى لارښوونه
کوي. ٩ په هغه ورځ به زه هغه
ټول قومونه چې غواړي په اورشليم
باندې حمله وکړي، له منځه يوسم.

## د اورشلیم د اوسېدونکو ویر

۱۰ زه به د داود اولاده او د
اورشلیم نور خلک د مهربانۍ او دعا
کولو د روح نه ډک کړم. هغوی به ما
ته ګوري یعنې هغه چاته چې هغوی
په نېزه باندې سورې کړی چې مړ
شي او هغوی به په هغه باندې داسې
ویر کوي لکه څوک چې په خپل
یوازېني زوی باندې ویر کوي.
هغوی به داسې سخت غمجن وي
لکه د چا مشر زوی چې مړ شوی
وي. ۱۱ په هغه ورځ به په اورشلیم

کې یو داسې لوی ماتم وي لکه

څنګه چې د مجدو په میدان کې د

هددرمون دپاره کېده. (۱۲-۱۴) په دې

وطن کې به هره کورنۍ د خپل ځان

دپاره ویر کوي: یعنې د داود کورنۍ،

د ناتان کورنۍ، د لاوي کورنۍ، د

شمعي کورنۍ او نورې ټولې کورنۍ.

هره کورنۍ به د خپل ځان دپاره ویر

کوي او د هرې کورنۍ نارینه او

ښځې به بېل بېل ویر کوي.

(۱) په هغه ورځ به یوه چینه

جاري شي چې د داود اولاده او د

اورشلیم خلک د ګناه او بت‌پرستۍ نه پاک کړي.»

## دروغجن پیغمبران او بت پرستي له منځه ځي

(۲) مطلق قادر خښتن وايي: «په هغه ورځ به زه د وطن نه د بتانو نومونه ورک کړم او هېڅوک به يې نور نه يادوي. زه به وطن د هغو خلکو نه خلاص کړم چې په دروغو د پیغمبرۍ دعوه کوي او ناپاکه روح به ورک کړم. (۳) بیا که چېرې کوم څوک خپل نبوت ته دوام ورکوي،

نو د هغه خپل مور او پلار به ورته

ووايي چې ته باید مړ شې، ځکه

چې ته د څښتن په نوم دروغ وایې.

کله چې هغه نبوت کوي، نو د هغه

خپل مور او پلار به هغه په توره

باندې سورى سورى کړي او هغه به

ووژني. ۴ په هغه ورځ به هیڅ

پیغمبر په خپلو رویاګانو باندې ویاړ

نه کوي او نه به د پیغمبرانو رول

لوبوي او نه به د خلکو د غولولو په

خاطر د پیغمبرانو کالي اغوندي. ۵

بلکې هغه به وایي: ‹زه پیغمبر نه

یم. زه یو بزګر یم او د ځلمیتوب د

وخت نه مې ځمکه کړله.› ⑥ نو که
څوک د هغه نه پوښتنه وکړي چې
ستا په سینه کې دا زخمونه د څه
دپاره دي؟ هغه به ځواب ورکړي:
‹زه د یو دوست په کور کې زخمي
شوی یم.›»

## د خدای د شپون د وژلو حکم

⑦ مطلق قادر څښتن وايي: «ای
زما توري پاڅېږه او په هغه شپون
باندې حمله وکړه چې زما دپاره کار
کوي! هغه ووهه، نو پسونه به خواره
واره شي. زه به په خپل قوم باندې

حمله وکړم ۸ او په ټول وطن کې
به د درې کسانو نه دوه کسان مړه
شي او یو به یې ژوندی پاتې شي.
۹ هغه خلک چې ژوندي پاتې
شوي دي زه به هغوی وازمایم او
هغوی به داسې صفا کړم لکه څنګه
چې سپین زر په اور باندې صفا
کیږي. زه به هغوی داسې وازمایم
لکه څنګه چې سره زر ازمایل
کیږي. بیا به هغوی ما ته دعا کوي
او زه به یې قبلوم. زه به هغوی ته
ووایم چې هغوی زما قوم دی او
هغوی به په دې باندې اقرار وکړي

چې زه څښتن د هغوی خدای یم.»

## اورشلیم او نور قومونه

١ ای اورشلیمه! ګوره، د څښتن
ورځ راروانه ده. ستاسو مال او
دولت به درڅخه په زور واخیستل
شي او هغه به ستاسو په مخکې په
خپل منځ کې سره ووېشي. ٢
څښتن به ټول قومونه سره راټول
کړي چې د اورشلیم سره جنګ
وکړي. ښار به ونیول شي، کورونه به
لوټ کړای شي او د ښځو سره به په
زوره زنا وشي. د ښار نیم خلک به

جلاوطنه شي، خو پاتې خلک به په ښار کې پرېښودل شي. ۳ بيا به څښتن راووځي او د هغو قومونو په وړاندې به وجنګېږي لکه څنګه چې په پخوا وختونو کې جنګېدلی ؤ. ۴

په هغه ورځ به هغه د اورشليم ختيځ خواته د زيتونو په غره باندې ودرېږي. د زيتونو غر به په منځ کې سره نيم شي او د ختيځ نه لوېديځ خواته به يوه پراخه دره راپيدا شي. نيم غر به شمال او نيم به جنوب خواته وخوځيږي. ۵ تاسو به د هغې درې په لاره چې اضل ته تللې

ده، وتښتئ. تاسو به د خپلو نيکونو
په شان چې د يهودا د پاچا عزيا په
وخت کې د زلزلې له امله تښتېدلي
وو، وتښتئ. بيا به زما څښتن خدای
راشي او ټولې فرښتې به د ځان سره
راولي.

۶ په هغه ورځ به هلته نه د لمر
رڼا وي، نه يخني او نه به يخ نيول،
۷ دا به يوه بې‌مثاله ورځ وي. شپه
او ورځ به نه وي، بلکې د ماښام په
وخت کې به هم رڼا وي. يوازې
څښتن به پوهيږي چې کله به داسې

کار وشي.

٨ کله چې هغه ورځ راشي، نو
د اورشليم نه به تازه اوبه بهيږي،
نيمې به مړې بحيرې ته او نيمې به د
مديترانې بحيرې ته بهيږي. هغه به
ټول کال بهيږي، هم په اوړي او هم
په ژمي کې. ٩ نو په هغه ورځ به
بيا ښبنتن د ټولې دنيا پاچا وي.
هرڅوک به د يوازېني ښبنتن خدای
عبادت کوي او په همدې نوم به يې
پېژني.

١٠ په شمال کې د جبعې نه په
جنوب کې تر رمون پورې ټوله
سیمه به هواره شي. خو اورشلیم به
په خپل اصلي ځای باندې لوړ ولاړ
وي. د اورشلیم ښار به د بنیامین د
دروازې نه د کنج تر دروازې پورې
چې پخوانۍ دروازه ده، رسیږي او د
حننییل د برج نه د شاهانه شرابو
جوړولو ترځایه پورې رسیږي. ١١
خلک به په اورشلیم کې اوسیږي.
هلته به نور د بربادۍ کوم خطر نه
وي او خلک به په امن کې اوسیږي.

۱۲ ښبنتن به په هغو قومونو
باندې چې د اورشليم سره يې جنګ
کړی دی، مرضونه نازل کړي. هغوی
به ژوندي وي، خو غوښې به يې
ورستې وي، د هغوی سترګې او ژبې
به خرابې شي. ۱۳ په هغه ورځ به
ښبنتن هغوی وارخطا کړي او داسې
به يې وويروي چې هغوی به يو بل
سره رانيسي او يو په بل باندې به
حملې کوي. ۱۴ د يهودا خلک به د
اورشليم نه د دفاع په خاطر
جنګيږي. هغوی به د ټولو قومونو
مال او دولت په غنيمت يوسي چې

په هغو کې به سره زر، سپین زر او
پرېمانه کالي وي. ۱۵ همدارنګه د
هغو قومونو په اسونو، قچرو، اوښانو،
خرو او ټولو حیواناتو باندې به چې
د دښمن په کمپ کې دي، خطرناکه
مرضونه نازل شي.

۱۶ بیا د قومونو ټول ژوندي
پاتې شوي خلک چې په اورشلیم
باندې یې حمله کړې وه، هغوی به
هر کال هلته ځي چې د پاچا یعنې
مطلق قادر څښتن عبادت وکړي او
د جونګړو اختر به لمانځي. ۱۷ خو

که چېرې کوم قوم د مطلق قادر
ښبتن یعنې پاچا ته د عبادت دپاره
د تللو څخه انکار وکړي، نو د
هغوی په وطن باندې به باران نه
اورېږي. ۱۸ که چېرې مصریان د
جونګړو د اختر د لمانځلو نه انکار
وکړي، نو په هغوی باندې به هماغه
شان مرض نازل شي لکه څنګه چې
ښبتن به یې په هغو قومونو باندې
نازل کړي چې د تللو نه انکار کوي.
۱۹ دا به هغه سزا وي چې مصر او
هغو ټولو قومونو ته به ورکول کیږي
چې د جونګړو د اختر د لمانځلو

دپاره نه ځي.

۲۰ په هغه ورځ به د اسونو په
زنګونو باندې هم دا کلمې ليکل
شوې وې چې «څښتن ته وقف
شوي.» د خدای د کور دېګونه به د
قربانۍ د ځای د کاسو په شان
سپېڅلي وي. ۲۱ همدارنګه په
اورشليم او ټوله يهودا کې چې کوم
دېګونه دي، هغه به هم د مطلق قادر
څښتن د عبادت دپاره وقف کړای
شي. کوم خلک چې قرباني وړاندې
کوي، نو هغوی به دا دېګونه د

قرباني د غوښې د ایشولو دپاره
کاروي. کله چې هغه ورځ راشي، نو
د مطلق قادر څښتن په کور کې به
نور یو سوداګر هم پاتې نه شي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳